بسم الله الرحمن الرحیم

د بخښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالی:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا﴾

سوره الأحزاب: ۳۳

پاک الله فرمايي:

"بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو عليهم السلام له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنگه چې د پاکۍ حق دے."

# جبر او اختیار

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمايل:

زۀ تاسو تـه دوه درانـه او ارزښتناک ځيزونـه پرېـږدم: يـو د خـدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبيت، که چيرې پـه دې دوو مـو منگولې ولگولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه بـه يو له بله جدا کيـږي نـه تـر دې چې د حوض (کوثر) پـه غـاړه مـا تـه راورسيږي.

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـــي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک ، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک ، ۱۸۲ مخ، مستدرک حـــــاکم، ۳ ټوک ، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# جبر او اختيار


ليکوال:
علامه سيد مرتضیٰ عسکري

مترجم :
سرفراز علي مهدي



د اهل بيتو نړيواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد۱۰؛ الجبر والتفویض والقضاء والقدر

نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري

تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت علیهم السلام -اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم :**

جبر او اختیار

لیکوال: علامه سید مرتضیٰ عسکري

تیاروونکې: د اهل بیتو د نړیوالې ټولنې د ژباړې څانګه

ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ایم اے عربي

تصحیح : انور شاهین خانخېل

وروستی کتنه: ډاکټر عبدالرحیم درانی

صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نیټه : ۱٤۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱٦م)

دچاپ وار: ورومبی

شمېر :۲۰۰۰

چاپ خانه: اسراء

خپروونکې: د اهلبېتو نړیواله ټولنه

ISBN: ۹۷۸-۹٦٤-٥۲۹-۰

www.ahl-ul-bayt.org

info@ahl-ul-bayt

# لړلیک


جبر او اختیار قضا او قَدَر یا تقدیر او قِسمَت ◄ ۱۱

د جبر، تفویض او اختیار تعریفونه ◄ ۱۱

الف- د جبر لغوي معنا ◄ ۱۱

ب- جبر، د اسلامي عقائدو د علماو په اصطلاح کښې ◄ ۱۱

ج- د تفویض (اختیار) لغوي معنا ◄ ۱۲

د- تفویض، د اسلامي عقائدو د پوهانو په اصطلاح کښې ◄ ۱۲

ه- د اختیار لغوي معنا ◄ ۱۲

و- د اسلامي عقائدو د علماو په اصطلاح کښې «اختیار» ◄ ۱۳

قضا او قدر یا تقدیر او قسمت او د هغو معنا ◄ ۱۵

الف- د «قضا» د لفظ ځینې معنې ◄ ۱۵

ب- د «قَدَر» د لفظ څو معنې ◄ ۱۷

ج- د «قَدّرَ» بله معنا ◄ ۲۰

د- د «قَدَرْ» معنا ◄ ۲۱

د قضا او قدر په حقله د شیعه و د امامانو روایتونه ➢ ۲۴
د روایتونو تشریح ➢ ۳۴
څو پوښتنې او ځوابونه ➢ ۳۹

# جبر او اختیار
# قضا او قَدَر یا تقدیر او قِسمَت

## د جبر، تفویض او اختیار تعریفونه

### الف- د جبر لغوي معنا

په لغت کښې د «جبر» معنا دا ده چې: په زور سره څوک یو کار ته وهڅولے او مجبور کړے شي او «مجبور» هغه کس ته وائي چې په زور سره یو کار ته مجبور او هڅولے شوے وي.

### ب- جبر، د اسلامي عقائدو د علماو په اصطلاح کښې

«جبر» په دې اصطلاح کښې یعني: خدا ے پاک خپل بندګان په هغه څه چې کوي یې مجبور کړي دي. که هغه نېک کار وي او که بد کار وي؛ د ثواب کار وي او که ګناه وي، په دا ډول چې بنده د دې کار د تر سره کولو یا د سرغړونې په حقله نه څه اراده لري او نه څه واک او اختیار، د «جبر» عقیده لرونکي وائي چې کوم کار چې انسان کوي د هغهٔ هماغه برخلیک او

قسمت دے چې له وړاندې ټاکلے شوے دے، انسان واک او اختیار نۀ لري چې هغه یې هرې خوا ته راکښۀ هغه خوا ته به ځي، دا نظریه د اشاعره فرقې ده.

ج- د تفویض (اختیار) لغوي معنا

«تفویض» په لغت کښې، د یو کار بل چا ته سپارل او بل چا ته د هغۀ اختیار او واک ورکولو ته وائي.

د- تفویض، د اسلامي عقائدو د پوهانو په اصطلاح کښې

په اصطلاح کښې «تفویض» یعني دا چې پاک خدا ے د بندګانو کارونه ټول هغوي ته سپارلي دي هر څه چې یې زړۀ وغواړي د هغه په کولو کښې ازاد او خپلواکه دي، او الله پاک د هغوي په عملونو او کارونو وس او قدرت نۀ لري ، دا نظریه او عقیده د معتزله فرقې ده.

ه- د اختیار لغوي معنا

«اختیار» په لغت کښې د څه شي د انتخاب او ټاکلو حق لرلو ته وائي یعني د یو څیز په انتخابولو او خوښولو کښې ازادوالي ته اختیار وائي.

و- د اسلامي عقائدو د علماو په اصطلاح کښې «اختیار»

خدای پاک په خپلو بندګانو، د خپلو پیغمبرانو او رسولانو په وسیلې سره ځینې ځیزونه فرض کړي دي او له ځینو نورو یې منعې او نهې کړې ده، له دې نه پس چې الله پاک خپلو بندګانو ته د کارونو د تر سره کولو او د هغو پرېښودلو طاقت او قدرت او اراده ورکړې ده او په هغو کارونو کښې چې بندګان یې کوي، د هغوي لپاره یې د انتخاب او ازادۍ حق ایښې دے، او هیڅوک یې د کارونو په تر سره کولو مجبور کړے نۀ دے بلکې ټول انسانان ازاد دي خو له هغوي یې غوښتي چې له کومو کارونو مو منعې کړي یئ او کوم مو درباندې واجب کړي دي په هغوکښې زما اطاعت وکړئ، په دې خبرې باندې استدلال به د خدای په فضل سره په راتلونکې بحث او برخې کښې وړاندې کړوو.

## قضا او قدر یا تقدیر او قسمت او د هغو معنا

د «قضا» او «قدر» ټکي په مختلفو معنو کښې استعمال شوي دي خو هغه څه چې زمونږ د بحث سره مربوط او تړلي دي دلته یې ذکر کوو:

### الف- د «قضا» د لفظ ځینې معنې

۱- «قضا» د هغو دوو ډلو چې سره نښتي وي، تر مینځ «فېصله کولو» ته وائي، لکه:

﴿إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ﴾

"بېشکه ستا رب به د قیامت په ورځ ضرور د دوي په مینځ کښې په هغه څه کښې فېصله کوي چې دوي به پکې اختلاف کوۀ."

۲- «قضا» د «آگاه کولو او خبرولو» په معنا هم راځي لکه، د لوط په قصه کښې د خدا ے تعالیٰ دا وینا او د قوم له برخلیک څخه د هغه خبرول او اگاه کول لکه فرمايي:

﴿وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٞ مُّصۡبِحِينَ﴾

"او هغهٔ (لوط) ته مو د دې کار وحي وکړه (خبر مو کړ) چې په دوي سبا کيږي نو جرړے به يې غوڅے شوي وي."

۳- «قضا» د «واجب کولو» او «حکم ورکولو» په معنا هم راځي لکه:

﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ﴾؛

"او ستا رب حکم ورکړے چې بې له هغه د بل چا عبادت او بندگي مه کوئ."

٤- «قضا» د «ارادې او تقدير»، په معنا لکه:

﴿وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾؛

"او هر کله چې د یو کار اراده وکړي نو یوازې ورته ووائي "وشه" نو هغه وشي."

﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلاً﴾؛

"هغه خدا ے دے چې تاسو یې له خاورې او ختې پیدا کړئ او بیا یې [انسان لپاره] یوه نېټه «مقدر» او وټاکله."

یعنی د انسان د ژوند لپاره یې یوه اندازه او مقدار یعنې عمر مقرر کړ. (چې مثلا دې به په دې دنیا کښې څو کاله ژوند تیروي)

## ب- د «قَدَر» د لفظ څو معنې

۱- «قَدَرَ» یعنی قدرت تر لاسه کول، د څه کار د کولو توان حاصلول، «قادر» یعنی وسیال (وس لرونکے) او «قدیر» یعنی توان او طاقت لرونکے، خدا ے پاک په سورۀ یس، آیت ۸۱ کښې فرمائي:

﴿أَوَلَيْسَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِقَـٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم﴾؛

"او آیا هغه (خدای) چا چې اسمانونه او زمکه پیدا کړل هغه په دې خبرې قادر نه دے چې هغه به د دوي غوندې نور پیدا کړي؟"

او د سورهٔ بقره، په ۲۰ ایت کښې فرمائي:

﴿وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَـٰرِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ﴾؛

"او که خدای غوښتلې نو دوي به یې کاڼهٔ او ړاندهٔ کړي وو (ځکه چې) خدای په هر شي قدرت لري."

یعنی الله پاک په هر کار چې د هغه حکمت یې اقتضا وکړي، قدرت او وس لري.

۲- «قَدَرَ» يعني په سختي کښې راګيرول، «قَدَرَ الرِّزْقَ عَلَيْهِ وَ يَقدرُ» يعنی د هغهٔ ژوند يې سخت کړے (يعني روزی يې لږه شوے ده او مشکلاتو کښې ګير دے)

پاک الله د سورهٔ سبأ، په ۳۲ ايت کښې فرمائي:

﴿قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ﴾؛

"ورته ووايه: چې زما رب د چا په حقله وغواړي نو روزي ورله پراخه کړي يا (روزي ورله) تنګه کړي."

۳- «قَدَرَ» يعنی تدبير او اندازه يې وکړه، «قَدَرَ اللّه الأمر بقدره» يعنی پاک الله دغه تدبير کړ يا د يو کار د تر سره کولو غوښتونکے شو لکه چې د سورهٔ قمر، په ۱۲ ايت کښې فرمائي:

﴿وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ﴾؛

"او له زمکې مو چينې راوبيولې نو دا دوه ډول اوبهٔ(د باران او چينې اوبهٔ) په هغه اندازه چې تدبير او غوښتې شوي وو په خپلو کښې يوځاے شوې."

## ج- د «قَدّرَ» بله معنا

۱- «قَدَرَ» يعنى حکم يې وکړ، «قَدَّرَ اللهُ لأمرَ» يعنى پاک الله حکم او امر وکړ چې کار بايد په دا ډول وشي لکه د سورّ نمل، په **۵۷** ايت کښې د لوط د ښځې په حقله فرمائي:

﴿فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ﴾

"نو مونږ هغه [لوط] او د هغهٔ خپلوانو ته نجات ورکړ مګر د هغهٔ ښځه چې (د هغې په حقله مو) حکم کړے ؤ چې هغه به له باقي پاتې کسانو څخه وي."

يعنى زما حکم دا ؤ چې (هغه به بچ کيږي نه) هغه ښځه به هلاکيږي.

۲- «قَدّرَ» **یعنی صبر کول او ستره سینه لرل،** «**قَدَّرَ فی الأمر**» **یعنی د یو کار په کولو کښې له صبر کار اخېستل او په** قرارۍ سره تر سره کول، لکه پاک الله د سورهٔ سبأ په ایت۱۱ کښې داؤد ته فرمائي:

﴿أَنِ ٱعۡمَلۡ سَٰبِغَٰتٖ وَقَدِّرۡ فِي ٱلسَّرۡدِ﴾؛

"او ارتې زغرې جوړې کړه او په جوړښت (اوبدلو) کښې یې اندازه سمه ونیسه."

یعنی د زغرې په جوړلو کښې بیړه مه کوه بلکې په ځیرتیا سره او اوږد مهال کښې یې جوړه کړه چې مضبوطه او پخه زغره جوړه شي.

## د- د «قَدَرْ» معنا

۱- «قَدَرْ» د کمیت او مقدار او اندازې په معنا ده لکه چې په سورهٔ حجر، آیت ۲۱ کښې داسې فرمائي:

﴿وَإِن مِّن شَىۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعۡلُومٍ﴾؛

"او داسې يو څيز هم نشته چې مونږ سره يې خزانې نه وي (خو) مونږ هغه يوازې په معلومه اندازه نازلوو."

۲- «قَدَر» د زمان او مکان په معنا، لکه د قران په سورهٔ مرسلات، ۲۰او۲۲ ايتونو کښې پاک الله فرمائي:

﴿أَلَمۡ نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٢٠ فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٖ مَّكِينٍ ٢١ إِلَىٰ قَدَرٖ مَّعۡلُومٖ﴾؛

"آيا مونږ تاسو له حقيرو او سپکو اوبو پيدا کړي نهٔ يئ، بيا مو هغه اوبهٔ په يو سنبال ځاے کښې، يوې مقرر او ټاکلې شوې مودې پورې محفوظې کړې؟"

**۳**- «قَدَر» د کلک حکم په معنا هم راځي، «قَدَرالله» يعنې د خداے محکم او قطعي حکم داسې حکم چې بدلون پکې نهٔ راځي، لکه چې په سورهٔ احزاب، ۳۸ ايت کښې فرمائي:

﴿سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قَدَرٗا مَّقۡدُورًا﴾؛

"دا د خدای سنت (طريقه) دی، د هغوي (پېغمبرانو) په حقله چې له دهٔ وړاندې تېر شوي دي او د خدای کار په ټاکلې اندازه دی."

ښائي د «قضا او قدر» مختلفې معنې او خدای ته د دغو ټولو معنو نسبت ورکول د دې سبب شوي دي چې ځينې مسلمانان په دې اړه تېروځي او داسې ګومان وکړي چې د «قضا او قدر» معنا په قرآن شريف او حديثوکښې داسې ده چې، انسان په خپل ژوند کښې چې څه هم کوي که هغه نېک کار وي او که بد، د «قضا او قدر» او د هغه برخليک په بنياد دي چې خدای پاک د دغه کس له خلقته وړاندې د هغهٔ لپاره ليکلې او ټاکلې دي لکه چې زمونږ په روايتونو کښې «قَدَري»، لفظ په «جبري» او «تفويضي» هر دواړو معنو باندې اطلاق شوی دی. او د داسې اطلاق په بنياد د «قَدَر» ټکی داسې نوم دی چې په يو شي او د هغه د ضد

دواړو لپاره استعمال شوے دے لکه د «قُرْء» ټکے چې هم د «حېض» ( يعنې د ښځو د ماشتپنی بيماری یاجامو) او هم د «پاکی» دواړو لپاره استعماليږي.

په آخر کښې، د قدر په حقله د مختلفو اقوالو او د هغو د ځوابونو له بيانولو څخه ډډه کوو چې بحث ډېر اوږد نۀ شي خو يوازې هغه حديثونه بيانوو چې د دغو اقوالو ځوابونه پکې موجود دي چې انشاالله د پوښتنو ځوابونو په ترڅ کښې به د موضوع توضيح او شرحه هم بيان شي.

## د قضا او قدر په حقله د شيعه و د امامانو روايتونه

### وړومبے روايت

۱- وړومبے روايت له اهلبېتو امامانو څخه له وړومبي امام، حضرت امام علي بن ابی‌طالب څخه اورو:

شېخ صدوق په خپل سند سره په خپل توحيد کتاب کښې تر امام حسن پورې او ابن عساکر هم په خپل تاريخ کښې په خپل سند سره تر ابن عباس پورې دا روايت نقل کړے دے چې: [دا عبارت د شېخ صدوق دے]

«دَخَلَ رَجُل مِن أهِل العِراقِ عَلی أمیر الْمُؤْمنین علیه‌السلام فَقالَ: أخْبرْنا عَنْ خرُوجنا إلی أهلِ الشام أبقَضاء من اللّهِ وَ قَدَر؟ فَقالَ لَهُ أمیرُ الْمُؤْمِنینَ علیه‌السلام: اَجَل یا شَیخ، فَوَاللّهِ ما عَلَوتُم تَلْعَة وَ لا هَبطتُم بَطْنَ وادٍ إلاّ بقَضاء مِنَ اللّهَ وَ قَدَر، فَقالَ الشَّیْخُ: عِنْدَاللّه اَحْتَسِبُ عنائی یا أمیرَالْمُؤْمِنین! فَقالَ علیه‌السلام: مَهْلاً یا شیخ! لَعَلّكَ تَظُنّ قَضاءً حَتْمَا وَ قَدَرا لازما! لَوْ کانَ کَذلِكَ لَبَطل الثّوابُ وَ العِقابُ وَ الأمرُ وَ النَّهیُ وَ الزَّجر، وَ لَسَقَطَ مَعْنَی الْوَعید وَ الْوَعد، وَ لَمْ یَکُن عَلی مُسیءٍ لائمة وَ لا لِمُحْسنٍ مَحْمَدة، وَ لَکانَ الْمُحْسنُ أولی باللائِمةِ مِن الْمُذنب، وَ الْمُذنبُ أولی بالإحسانِ من الْمُحْسِن، تِلْكَ مَقالَةُ عَبْدَةِ الإوْثانِ وَ خُصَماء الرَّحْمانِ وَ قَدَریَّة هذِهِ الأُمَّة وَ مَجُوسِها. یا شَیخ! إنَّ اللّهَ عَزَّوَجَلَّ کَلَّف تَخْییرا، وَ نَهی تَحْذیرا، و أعْطی عَلی الْقَلیلِ کَثیرا وَ لَمْ یُعصَ مَغْلُوبَا، وَ لَمْ یُطَع مُکْرَها، وَ لَمْ یَخْلُقِ السَّمواتِ وَ الأَرْضَ وَ ما بَیْنَهُما باطِلاً ذِلكَ ظَنُّ الَّذینَ کُفْرُوا فَوَیْلٌ لِلَّذینَ کَفَرُوا مِنَ النّار» ؛

یو عراقي اميرالمومنين علي ته راغے او وې ويل: آيا که مونږ له شاميانو سره وجنګيږو دا د الله تعالیٰ د «قضا او قدر» په مطابق دي (يعني دا کار خدا ے غوښتے د ے؟ امام علي‌عليه‌السلام هغه ته وفرمايل: هو مشره! قسم په خدا ے تر اوسه پورې چې تهٔ کومو ځايونو، که هغه اوچت او لوړ وو او که ټيټ، ته لاړ يې هغه ټول د خدا ے تعالیٰ د «قضا او قدر او تقدير» په مطابق وو! هغه کس وويل: هيله من يم چې زما تکليفونه د خدا ے په نزد زما په کار راشي!

امام علي ورته وفرمايل: ورو ورو ځه مشره! داسې ښکاري چې دا ګومان دې وکړ چې يقيني او قطعي قضا او تقدير مې بيان کړ! که داسې وي نو دغه ثوابونه او عذابونه او امر باالمعروف او نهي عن المنکر ټول باطل دي او له عذابه ويرول او يا د بهشتونو زيرے ورکول دغه ټول بې ګټې دي، نهٔ ګناهګار سړے ملامتولے شې او نهٔ نېکو کاره کس ستائېلے شې بلکې له بدکاره زيات، نېکو کاره سړي ملامت کول روا دي او بدکاره که چرې ښه کار وکړي نو هغه بايد د ځه شي حقدار شي نهٔ نېکو کاره سړے! دا تا کوم سوچ

وکړ، دا د دې امت د بت پرستو او د خدای پاک د دښمنانو «قَدَري ډلې» او مجوسیانو عقیده ده! اې مشره! خدای عزوجل په خپلو بندګانو باندې فرض کړل چې په خپل اختیار او واک سره پرې عمل وکړي او هغوي يې نهي کړل چې باید په خپل اختیار سره ترې ډډه وکړي، او په لږ کار ډېر ثواب ورکړي، داسې نه ده چې د کمزورتیا لامله یې نافرماني وشوه او په نهٔ زړهٔ توب (ناخواسته) یې اطاعت وشو، هغهٔ زمکه او اسمانونه او په دې دواړو کښې موجود څیزونه باطل نهٔ دي پیدا کړي بلکه دا د هغو کسانو ګومان دے چې کافران دي، نو افسوس دې وي په هغو کسانو چې د اور له عذابه کافر او منکر شوي دي!»

راوي وائي: هغه مشر پاڅېد او دا شعرونه یې وویل:

اَنت الإمامُ الَّذی نَرجُو بطاعَتِهِ

یَوْمَ النَّجاةِ مِنَ الرَّحْمن غُفْرانا

اَوْضَحْتَ مِنْ دیننا ما کانَ مُلْتَبسا

جَزاكَ رَبُّكَ عَنّا فیهِ إحْسانا

فَلَیْس مَعْذِرة فی فِعْل فاحِشَةٍ
قَدْ کُنْتُ راکِبُها فِسْقا وَ عِصْیانا
تهٔ هماغه امام یې چې ستا د اطاعت په سبب
د قیامت ورځې د خدا ے د بخشش ارمان کوم
تا زما له دین او ایمانه ټول شکونه او شبهې لرې کړې
له خدایه غواړم چې تا ته د دې احسان جزا درکړي
پس له دغو روښانه خبرو نور د ګناه کولو حق نهٔ لرم
چې بیا نهٔ زه بخښنه غوښتې شم او نه ځان ته نجات ورکولې شم

دویم روایت

دویم روایت له اهلبیتوامامانو علیهم السلام څخه له شپږم امام، حضرت امام ابو عبدالله جعفر بن محمد الصادق څخه نقلوو چې وې فرمایل:

«إنَّ النّاسَ فِی الْقَدَر عَلی ثَلاثَة أوْجُه: رَجُلٌ زَعَمَ أنَّ اللّهَ عَزَّ وَ جَلَّ أجْبَر النّاسَ عَلَی الْمَعاصی فَهذا قَدْ ظَلَمَ اللّهَ في حُکْمِهِ

فَهُوَ کافِرٌ، وَ رَجُلٌ یَزْعَمُ أنَّ الأمْرَ مُفَوَّضٌ إلَیْهِم فَهذا قَدْ أوْهَنَ اللّه فی سُلْطانِهِ فَهُوَ کافِرٌ. وَ رَجُلٌ یَزْعَمُ أنَّ اللّهَ کَلَّفَ الْعِبادَ ما یُطیقُونَ وَ لَمْ یُکَلِّفهُمْ ما لا یُطیقُونَ وَ إذا أحْسَنَ حَمَدَ اللّه وَ إذا أساءَ اسْتَغْفَرَ اللّه فَهذا مُسْلِمٌ بالِغٌ».

ترجمه: «د «قَدَراو تقدیر» په حقله خلق درې ډوله دي: ۱. هغه کسان چې دا عقیده لري چې خدا ے تعالیٰ (نعوذ بالله) خلق په ګناه کولو مجبور کړي دي هغوي د خدا ے د حرام کړې شویو څیزونو په حقله په خدا ے ظلم او ستم کړے د ے نو بس هغوي کافران دي.»

۲- هغه کسان چې دا عقیده لري چې د ټولو کارونو اختیار او واک انسان ته ورکړے شوے د ے، دې ډلې هم د خدا ے قدرت او واکمني کمزوري او ناتوانه ګڼلې ده نو بس دوي هم کافران دي.

۳- هغه کسان چې دا عقیده لري چې خدا ے پاک خپل بندګان د هغوي د طاقت او توان مطابق مکلف کړي دي او د کومو څیزونو توان او طاقت چې نۀ لري له هغوي یې نۀ دي غوښتي (یعني فرض او واجب یې پرې نه دي کړي) هغو

چې کله هم نېک کار وکړي نو د خدا ے شکریه ادا کوي او که بد کار وکړي او تیروځي نو له خدایه بخښنه غواړي نو بس همدغه حقیقي مسلمانان دي. »

دریم روایت

دریم روایت د اهلبیتو امامانو علیهم السلام څخه له اتم امام، حضرت امام علي بن موسی الرضا څخه نقلوو چې فرمائي:

۱- « إنَّ اللّهَ عَزَّوَجَلَّ لَمْ يُطَع بِإكراهٍ، وَ لَمْ يُعْصَ بغَلَبَةٍ وَ لَمْ يُهْمِلِ العِبادَ فی مُلْكِهِ، هُوَ الْمالِكُ لِما مَلَّكَهُم وَ الْقادِرُ عَلى ما اَقْدَرَهُم عَلَيْه فَإنِ ائْتَمَر الْعِبادُ بطاعَتِهِ لَمْ يَكُنِ اللّهُ مِنْها صادّا، وَ لا مِنْها مانعا، وَ إنْ ائْتَمَرُوا بِمَعْصِيَةٍ فَشاءَ أنْ يَحُولَ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ ذلِكَ فَعَلَ وَ إنْ لَمْ يَحُلْ وَ فَعَلُوهُ فَلَيْسَ هُوَ الَّذی أدْخَلَهُمْ فيه».

«د خدا ے پاک مجبوراً اطاعت او عبادت نۀ د ے شو ے او د کمزورتیا او ماتې لامله د هغه نافرماني نۀ ده شو ے او په دنیا کښې یې خپل بندګان بې فائدې او چټې (عبث) نه دي پېدا کړي هغه د ټولو هغو څیزونو مالک د ے چې بندګانو

ته يې ورکړي دي او په هغو ټولو کارونو چې انسان ته يې د هغو وس ورکړے دے واکمن او وسيال دے که بندګان د خدا ے پاک د اطاعت په لاره روان وي نو خدا ے پاک د هغوي لاره نۀ بندوي او له اطاعته يې نۀ غړوي خو که انسان د خدا ے پاک د نافرمانئ په لاره روان وي او خدا ے وغواړي چې د هغه او ګناه ترمينځ فاصله راولي نو دا هم کولې شي خو که چرې الله پاک دا کار ونۀ کړ او انسان يې له ګناه بچ نۀ کړ او هغه انسان ګناه وکړه نو خدا ے تعالیٰ هغه په ګناه نۀ دے اخته کړې (بلکې هغه په خپل وس او اختيار سره دغه کار کړے دے).»

يعنی: هغه انسان چې د خدا ے پاک اطاعت کوي هغه په دغه اطاعت مجبور نه دے او هغه کس چې د خدا ے نافرماني کوي د خدا ے پاک په اراده او غوښتنه واکمن شوے نۀ دے بلکه همدا الله تعالیٰ دے چې غواړي چې زما بنده بايد مختار او ازاد وي.

او په قدسي کښې فرمائي:

۲- «يَا ابْنَ آدم بِمشيئتى كُنْتَ أنْتَ الَّذى تَشاءُ لِنَفْسِكَ ما تَشاءُ، وَ بِقُوَّتى أدَّيت إلَىَّ فَرائِضى، وَ بِنِعْمَتى قَوَيْتَ عَلى مَعصِيَتى، جَعَلْتُكَ سَميعا بَصيرا قَوِّيا، «ما أَصابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّهِ وَ ما أَصابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِك.»

«اے د آدم زویه! زما په مشیت او خوښې سره، تهٔ چې هر څه غواړې کولې شې (یعني اختیار مې درکړے دے) او زما په قدرت او طاقت سره واجبات او فریضې تر سره کوې، او زما په نعمتونو سره د ګناه په کولو قادر شوے یې ما تا ته غوږونه ، سترګې او طاقت درکړ، [نو په دې پوهـ شهـچې] «هره نېکي چې کوې زما لخوا ده او کوم بد کارونه چې کوې ستا د خپل ځان له لوري دي.» »

او په بل قدسي حديث کښې داسې راغلي دي چې: «عَمِلْتَ بِالْمَعاصِىَ بِقُوَّتى الَّتى جَعَلْتُها فيكَ»؛ «کوم طاقت مې چې درکړے ؤ په هغه طاقت سره دې ګناهونه تر سره کړل(حال دا چې باید په هغهٔ سره دې زما اطاعت کولې)!»

ځلورم روایت

له شپږم امام حضرت امام جعفر صادق ځخه روایت کوي چې وې فرمایل:

۱- «لا جَبْرَ وَ لا تَفْویضَ وَ لکِن أمْرٌ بَیْنَ أمْرَینِ، قالَ قُلْتُ: وَ ما اَمْرٌ بَیْنَ أَمْرَیْنِ؟ قالَ علیه‌السلام: مَثَلُ ذلِكَ رَجُلٌ رَأَیْتَهُ عَلی مَعْصِیَةٍ فَنَهَیْتَهُ فَلَمْ یَنْتَه فَتَرَکْتَهُ فَفَعَلَ تِلْكَ الْمَعْصِیَة، فَلَیْسَ حَیْثُ لَمْ یَقْبَلُ مِنْكَ فَتَرَکْتَهُ کُنْتَ أنْتَ الَّذی أمَرْتَهُ بِالْمَعْصِیَة».

«د انسان په کارونو کښې، نهٔ جبر(مجبوري) شته او نه تفویض، بلکه د دې دوو تر مینځ یو شے دے. راوي وائي ومې وویل چې د دې دوو تر مینځ د یو شي څه مطلب شو؟ وې فرمایل: زما د خبرې مثال داسې دے لکه چې یو کس په ګناه کښې لګیا وي او تهٔ هغه منعې کوې خو هغه ستا خبره نهٔ مني او تهٔ یې هم پرېږدې، او هغه دا ګناه ترسره کوي، نو داسې نهٔ ده چې چونکه ستا خبره یې نهٔ منله او تا پرېښود، نو همدا ستا، هغهٔ ته د ګناه کولو حکم ورکړے دے (نه بلکه هغهٔ په خپل اختیار او واک سره ګناه کړې ده)! »

۲- «ما اسْتَطَعتَ أنْ تَلُومَ الْعَبدَ عَلَيْه فَهُوَ مِنْه وَ ما لَمْ تَسْتَطِعْ أنْ تَلُومَ الْعَبْد عَلَيْهِ فَهُوَ مِنْ فِعْلِ اللّه، يَقُولُ اللّهُ لِلْعَبد: لِمَ عَصَيْتَ؟ لِمَ فَسَقْتَ؟ لِمَ شَرِبْتَ الْخَمْرَ؟ لِمَ زَنَيْتَ؟ فَهذا فِعْلُ الْعَبْد، وَ لا يَقُولُ لَهُ لِمَ مَرِضْتَ؟ لِمَ قَصُرْتَ؟ لِمَ ابْيَضَضْتَ؟ لِمَ اسْوَدَدْتَ؟ لِأنَّهُ مِنْ فِعْلِ اللّهِ تَعالى.»

«هر هغه کار چې بنده او انسان پرې ملامتېدې شي د انسان له لوري دے او هر هغه کار چې پرې انسان او بنده نۀ شي ملامتېدې د خدا ے له لوري دے، خدا ے خپل بنده ته فرمائي: ولې دې سرکشي او سر غړونه وکړه؟ ولې دې نافرماني وکړه؟ ولې دې شراب وڅښل؟ ولې دې زنا وکړه؟ پس دا د بنده او انسان کارونه دي، خو خدا ے هيڅ کله له بنده دا نۀ پوښتي ولې ناروغه او بيمار شوې؟ ولې دې قد او اندازه لنډه او وړه ده؟ ولې سپين يې يا ولې تور يې؟ ځکه چې دا د خدا ے کارونه دي.»

## د روایتونو تشریح

«جبر» او «تفويض» دوه اړخه لري:

۱- یو اړخ یې دا دے چې خدا ے پاک او د خدا ے پاک صفاتو ته وګرځي.

۲- بل اړخ دا چې له انسان او د هغهٔ له صفاتو سره مربوطیږي.

له جبر او تفویضه هغهٔ څه چې خدا ے پاک او د هغهٔ له صفاتو سره تعلق لري نو غوره دا ده چې هغه له خدایه او د خدا ے له انبیاو او اوصیاو څخه راواخلو او هغه څه چې د انسان او د هغه له صفاتو او افعالو سره تړلي دي همدا چې ووایو چې زهٔ دا کار کوم یا زهٔ دا کار نهٔ کوم نو همدا بس ده چې پوهـ شوو چې څه چې کَوَم په خپل اختیار او واک یې کَوَم. په تېرو بحثونو کښې پوه شوو چې د انسان د ژوند سفر اوحرکت د ذرې ، ایټم او سیارو او کهکشانو او د خدا ے فرمان او حکم سره مسخر شوي څیزونو له حرکت او نتیجې سره یو شان او برابر نهٔ دے دا یوه خبره، له بلې خوا دا چې خدا ے انسان په خپل حال نهٔ دے پرېښے او داسې ازاد یې هم نه دے پرېښے چې هر څه یې زړهٔ وغواړي او د هغه نفس اماره هر څنګه حکم ورکړي، هغه تر سره کړي

بلکې خدا ے پاک د خپلو پېغمبرانوﷺ په وسيلې سره هغهٔ ته لاره ښودلې ده، هم د قلبي ايمان حقه لاره يې ورته په ګوته کړي او هم د جسماني ګټې ښائېسته عمل طريقه يې ورته ښودلې ده او هم له تاوان رسوونکو عملونو يې اګاه کړے دے، نو بس که هغه د خدا ے پاک د هدايت پېروي وکړي، او په صراط مستقيم کښې، يو قدم کېږدي نو خدا ے يې له لاسه نيسي او لس قدمونه مخکښې يې بيايي، او بيا د هغه د عمل د اثارو په خاطر په دنيا او آخرت کښې اوهٔ سوه برابره اجر او ثواب ورکوي او خدا ے تعالیٰ د خپل حکمت او سنت په مطابق هر چا ته چې وغواړي زياتوي يې.

۱- مونږ، په عقايد اسلام نومې کتاب کښې يو مثال بيان کړے دے چې: الله پاک دا دنيا لکه د مېلمتون (مهمان خانې) په توګه مومن او کافر دواړو لپاره تياره کړې ده، لکه څنګه چې په سورهٔ اسراء، آيت ۲۰ کښې الله تعالیٰ فرمائي:

﴿كُلاًّ نُّمِدُّ هَـٰٓؤُلَآءِ وَهَـٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا﴾؛

"مونږ د هر چا امداد کوو د دغې (دنيا)غوښتونکې ډلې) او د هغې دنيا (آخرت غوښتونکې ډلې) ټولو سره، دا ستا د رب ورکړه(بخشش) ده او ستا د رب ورکړه (په دې دنيا کښې) په چا ممنوع او بنده شوې نۀ ده."

بېشکه که د خدا ے پاک امداد او مرسته نۀ وې او د خدا ے بندګانو خپل جسمي او فکري توان او طاقت او نورې اسانتياوې له سبحان خدا ے څخه نۀ وې اخېستې نو نۀ به مومن ښه او نيک عمل کړے ؤ او نۀ به ګمراه کافر د بدو کارونو طاقت لرلے ؤ، که خدا ےپاک په رښتيا سره يوه لحظه خپل فضل او رحمت له انسانه غوځ کړي، که څه هم يو ورکوټے څيز ترې واخلي لکه سترګه، سلامتي، عقل يا فکر وغېره .... نو دا ناتوانه انسان څه کولې شي؟ نو بس د همدې امله انسان هر څه چې کوي په خپل اختيار او واک سره او د خدا ے پاک د ورکړې شويو اوزارونو په وسيلې

سره يې کوي نو ځکه انسان په انتخاب کښې اختيار لري خو په حصول او تر لاسه کولو کښې پوروړے دے.

هو، انسان په دې دنيا کښې خپلواکه نۀ دے، لکه څرنګه چې مکمل مجبور هم نۀ دے نۀ ټول کارونه هغۀ ته ورسپارل شوي دي او نۀ د هغه کار لپاره چې [انتخاب او خوښوي يې] مجبور دے، بلکې د دوو کارونو تر مينځ يو کار او چاره ده [الامر بين امرين]، او همدغه د خدا ے مشيت ، اراده او سنت او د بندګانو په اړه د هغۀ قانون دے.

«و لن تجد لسنة اللّه تبديلاً»؛ «او د خدا ے په سنت کښې هيڅکله بدلون او تبديلي نه راځي!»

## څو پوښتنې او ځوابونه

په دې برخه کښې لاندينۍ څلور پوښتنې مطرح کوو:

۱- انسان څرنګه په خپلو کارونو کښې اختيار او واک لري حال دا چې شېطان ورباندې واکمن او مسلط دے او شېطان ښکاري هم نه او انسان غولوي او په زړۀ کښې ورته وسوسه اچوي او بدو کارونو ته يې رابولي؟

۲- انسان په بد او فاسد چاپېريال کښې هم همداسې دے هغه بې له فساد او شره بل څه نه ويني نو څرنګه په خپل اختيار او واک باندې عمل وکړي؟

۳- هغه انسان چې د پېغمبرانو عليهم السلام دعوت ورته نۀ دے رسيدلے او په لرې ټاټوبي او بيابانونو کښې ژوند تيروي د هغه دنده څه ده؟

٤- د «ولد زنا انسان» گناه څه ده؟ ولې هغه د بل کس(مور او پلار) د عمل په وجه شر او بد کارونه خوښوي او شیطاني کوي؟

د ۱ او ۲ پوښتنو ځوابونه

د دې دوو پوښتنو ځوابونه د اسلامي عقائد نومې کتاب په میثاق بحث کښې ولټوئ، هلته مو وویل چې خدا ے پاک په انسانانو خپل حجت تمام کړے دے (یعني خپله غاړه یې خلاصه کړې ده) او په انسان کښې یې د پېښو او واقعاتو د اسبابو د لټون او څېړنې غریزه ایښې ده چې انسان په دې وسیلې سره اصلی مسبب الاسباب ته رسوي د هغه د معذرت لاره یې بنده کړې ده نو له همدې امله د سورۀ اعراف،په ۱۷۲ ایت کښې، الهي میثاق په حقله فرمائي:

﴿أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَـٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَـٰذَا غَـٰفِلِينَ﴾؛

"(دا گواهي مو واخېسته) د دې لپاره چې د قیامت په ورځ ونۀ وایئ چې مونږ له دې بې خبره وو."

لکه څرنګه چې انسان په هر حال کښې د لوړې له غریزې څخه نۀ غافلیږي تر هغه پورې چې ځان موړ کړي نو

همدارنګ د معرفت له غریزې هم نهٔ غافلیږي تر څو چې مسبب الاسباب یې پیژندلے نهٔ وي.

د دریمې پوښتنې ځواب

د دې پوښتنې په ځواب کښې باید ووایو چې خدا ے تعالی فرمایلي دي چې: «﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾؛ خدا ے هیڅا ته د هغه له توان او وس څخه زیاته فریضه او دنده نهٔ ور په غاړه کوي.»

د څلورمې پوښتنې ځواب

«ولد زنا» هم، د بد کار په تر سره کولو مجبور نهٔ دے، خو یوازې بد اثر شته او هغه دا چې د زنا کاره سړي او ښځې روحي حالت د زنا کولو په وخت داسې دے چې هغوي د دې زنا په تر سره کولو سره خپل ځانونه خائن ګڼي او پوهیږي چې اسلامي ټولنه د هغوي دغه کار سپک، ککړ او پلیت ګڼي او که خلق له دوي خبر شي او د دې سپک کار د تر سره کولو په وخت هغوي وګوري نو له هغوي سره به دښمني وکړي او له هغوي سره به هر ډول تعلقات غوڅ کړي او ټول

نېک کسان او د خو اخلاقو خاوندان به له داسې کارونو بيزاري او برائت کوي نو دغه دننه روحي ويره او خوف د دوي په نطفې اثر اچوي او د وراثت په څېر دغه (حرامزاده يا ولد زنا) ته منتقليږي، (لکه څنګه نور څيزونه هم شته چې کله کله په وراثت کښې بچي ته منتقليږي لکه مختلفې بيمارۍ) نو په دې وجه هغه شر او بد خوښونکے تربيت کيږي او د ټولنې له نېکو او پاکو خلقو سره مقابله کوي چې د دې سيرت څرګنده نمونه په تاريخ کښې زياد ابن اُبَيه او د هغه زوے عبېدالله بن زياد دے چې دوي د حکومت په وخت په عراق کښې هغه څه وکړل چې نبايد کړي يې وې، په تېره بيا ابن زياد چې د امام حسين او د هغهٔ د پاکو ملګرو د شهادت نه پس يې په کربلا کښې د هغوي بدنونه مثله او ټکړې کړل، ورباندې يې اسونه وځغلول د هغوي سرونه يې په نېزو اوچت او په مختلفو ښارونو يې وګرځول، اهلبېت‌علیهم‌السلام يعني د رسول الله‌صلی‌الله‌علیه‌وآله د کورنۍ کسان يې اسيران کړ ل او کوفې او شام ته يې بوتلل او نور هغه کارونه چې د ابن زياد په حکم تر سره شول په داسې حال کښې وو چې امام عالي مقام شهيد شو او بل سړے

پاتې نۀ ؤ چې د حکومت په مقابل کښې مقاومت وکړي او خپل دي کار لپاره هغۀ هيڅ ډول سپيناوے او توجيه نۀ لرله خو يوازې دا چې شر خوښونکے ؤ او غوښتل يې چې د عربو د شريفې او پاکې کورنۍ عظمت او احترام مات کړي او هغه بې اعتباره کړي هغه فطرتاً شر غوښونکے او د نيکۍ دښمن ؤ او تل به له نېکو او پاکو کسانو سره په جنګ ؤ.

له همدې امله، [دا منوو چې] ولد زنا شر او بد کار غوښتونکے او له نيکۍ کرکه لري او هغه يې په فطرت کښې ګډ شوي دي. خو د دې هر څه باوجود هم چې حرامي او حلالي کوم کارونه کوي دواړه په خپلو کارونو کښې مجبور نۀ دي د دغو دواړو مثال د يو تندرست ځوان او بوډا سړي دے. وړومبے کس (ځوان) په جسماني خواهشاتو کښې ډوب او غرق دے او بل کس هډو جسماني او جنسي طاقت نۀ لري نو معلومه خبره ده چې په داسې حال کښې بوډا زنا نۀ شي کولې او ځوان جنسي طاقت په بشپړه توګه لري او پوره مست دے، خو بيا هم دا ځوان د زنا په تر سره کولو مجبور نۀ دے، يعني که چرې ګناه يې وکړه نو بهانه نۀ

لري چې ووائي زهٔ مجبور ؤم بلکه که چرې د ګناه زمينه ورته برابره هم شي خو هغه د پاک الله «خافَ مَقام رَبِّه؛ له خدايه وويريږي»، «﴿وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ﴾؛ او خپل نفس له ناوړه او ناروا خواهشاتو څخه محفوظ وساتي»، «﴿ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ﴾؛ نو يقينا هغهٔ ټکانه او هميشنے کور جنت د ے.»

که د انسان د ژوند مختلف اړخونه مونږ په دا ډول وڅيړوو او د هغو په حقله غور او فکر وکړو، نو د کارونو په تر سره کولو کښې انسان د اختيار خاوند او واکمن مومو، مګر دا چې ځينې کارونه د غفلت او ناپوهۍ په وجه تر سره کړي چې هغه هم اخروي اثرات نه لري.

﴿ والحمدُ لله رَبّ العالَمِينْ﴾